10.سلمیٰ شاهين، پېغله، دَ پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر (دَ بي بي نوره ديباچه دَ سيد تقويم الحق کاکاخېل) ص ۳۱ – ۳۲ .

11.همدغه اثر، ص ۳۲.

# تاريخي تنقيد
## Historical criticism

Habibullah[*]

**Abstract**:

*Criticizing the literal meaning of the Arabic word, which is derived from cash "examine the unbiased and corruptly". While this means cover the beauty and art of a writer or poet to define the term views and the location. The act of giving your opinion or judgment about the good or bad qualities of something or someone. There are two kinds of criticism one is theoretical and second is practical, and some branches that is one historical criticism. Historical criticism, literary criticism in the light of historical evidence or based on the context in which a work was written, including facts about the author's life and the historical and social circumstances of the time.*

[*] M.Phil. Scholar, Bacha Khan University, Charsada Khyber PashtoonKhwa

تنقید د عربۍ ژبې ټکی دی چې د نقد یا انتقاد معنٰی ورکوي. پۀ انګریزۍ کښې د دې پاره د (criticism)* ټکی په کار رواستی شي چې یوناني ژبې د (krinien)* نه راوتی دی ـ ځنې پوهان کریټیسیزم ټکی د (criterion)* نه راوتی ګڼي چې اصول او معیار معنٰی لري ولې حال دادی چې (criterion) په خپله د انګریزۍ ژبې ټکی دی ـ پۀ ادبي اصطلاح کښې تنقید د یوې فنپارې کره کتنه کوي او نقاد د لیک دواړه اړخونه ښۀ او بد (کمزوري) پۀ ګوته کوي ـ ځنې خلق تنقید صرف پۀ یوه فنپاره کښې خامۍ او عیبونو رابرڅېره کولو ته وائي چې صحیح نۀ ده ـ یو نقاد لۀ په کار دي چې هغه بې د څۀ بغض او حسد نه مبرا تنقید وکړي او هم دغسې د مخ ملازې نه هم کار وانۀ خلي ـ

د تنقید عام دوه قسمونه دي چې یو ته نظري تنقید او بل ته عملي تنقید وئېلی شي ـ پۀ نظري تنقید کښې د فن پۀ بنیادي څېزونو خبره کولی شي لکه ادب څۀ دی ؟ او د ادبیاتو چې څومره منظوم او منثور اصناف سخن دي، دا څۀ دي ؟ د دې مقصد څۀ دی او د دې اهمیت، افادیت او ضرورت څۀ دی؟ دغسې د فن سره پېوسته او تعلق لرونکي نور څېزونه، پۀ عملي تنقید کښې چې کوم اصول د فن یا فن پارې د پاره وضع کړل شوي وي لکه غزل د لیکلو اصول څۀ دي ؟ پۀ دې کښې به مطلع، مقطع، وزن، بحر او لۀ دې نه پرته چې کوم نور اصول رائج کړی شوي دي د هغې خیال ساتلی شي او هم پۀ دې تناظر کښې ئې کره کتنه کولی شي ـ پۀ دې حقله سحر یوسفزی لیکي

> "د جاج دوه قسمونه دي ـ یو ته نظري او بل ته عملي جاج وئېلی شي ـ پۀ نظري کښې د فن پۀ بنیادي څېزونو باندې بحث کیږي لکه چې شاعري، ډرامه، ناول او د افسانې فن څۀ دی؟ ادب څۀ دی؟ مقصد څۀ دی؟ د دې ضرورت څۀ دی ـ ښکلا، تخیل او حقیقت څۀ وي؟ او پۀ عملي تنقید کښې هم د دغه رغګري شوي اصولو پۀ رڼا کښې تنقید کیږي".*

لکه څنګه چې پۀ ادب کښې د وخت تېریدو سره وسعت پېدا شو او نوي صنفونه متعارف کړی شو هم دغه رنګ تنقید هم خپله لمن فراخه او وسیع کړه او د وخت وخت سره پۀ کښې نوي مکتبونه (school of thought) جوړ کړی شو ـ هر چا فن او ادب ته د خپل نظریې فکر پۀ چشمو کښې وکتل ـ دغسې پۀ دې لړ کښې ډېر زیات مکتبونه لکه

نفسیاتي، تاثراتي، جمالیاتي، مارکسي او داسې نور پهٔ وجود کښې راغلهٔ۔ تاریخي تنقید هم د دغه تنقیدي نقطه فکر د مکاتیبو د لړۍ یوه کړۍ ده. د دې تنقید باقاعده شروعات د وولسمې صدۍ نه شوي دي چې امام ئې د فرانس نوموړی نقاد ایډمنډ شیرر یادیږي. پهٔ دې حقله عابد علي عابد لیکي۔

"تاریخی نقطہ نظر سی ادب کی انتقاد کا باقاعدہ اغاز اٹھارہویں صدی کی ابتداسی ہوتاہی. 1725ء میں نیپلز کی فلسفی ویچو (1668ء۔۔ 1744ء) کا رسالہ علم جدید "La Scienza Nuaova" شائع ہوا. یہ رسالہ فلسفہ تاریخ کی متعلق بحث کرتاہی. اسی رسالہ میں اس نی غالباً تاریخ میں پہلی مرتبہ ادب کی سماجی تعبیر کرنی کی کوشش کی، چنانچہ اس کی بعد اس تصور نی بڑی مقبولیت حاصل کی کہ فنون لطیفہ اور ادبیات کا مطالعہ اور تشریح و تعبیر اس نقطہ نظر سی ہونی چاہئی کہ وہ ان جعرافیائی، تاریخی اور ثقافتی حالات کی تخلیق ہیں جو کسی خاص قوم سی مربوط و منسوب ہیں. فنون لطیفہ اور ادبیات کو سمجھنی کی لئی لازم ہی کہ زمانی کی حالات کا مطالعہ کیاجائی جس میں وہ تخلیق ہوئی"*

د عابد علي عابد دا حواله سلیم اختر پهٔ خپل کتاب "تنقیدی دبستان" کښې هم راخیستې ده هغه لیکي:

"تاریخی نقطہ نظر سی ادب کی انتقاد کا باقاعدہ اغاز سترھویں صدی کی ابتداسی ہوتاہی. 1675ء میں نیپلز کی فلسفی ویچو vico Giovani Battista کا رسالہ علم جدید "La Scienza Nuaova" شائع ہوا. یہ رسالہ فلسفہ تاریخ کی متعلق بحث کرتاہی."*

چې د دواړو تر مینځه ښکاره او واضحه تفاوت دی. کهٔ اوس موږ د سیلم اختر راخیستي حواله د کتابت یا د چاپ غلطي ګڼو نو هم ممکنه نهٔ ده. ولې چې دا د هندسو هیر پیر نه دی بلکې ښکاره د لفظونو ( وولسمې او اتلسمې ) صدۍ خبره ده او بیا د 1725ء پهٔ ځای 1675ء لیکل هم ناشوني ده. بله عابد دا لیکي چې ویچو پهٔ 1725ء کښې یوه رسالهٔ د علم جدید پهٔ نوم خوره کړه او د دوئ ژوند د (1686ء ـــ 1744ء) پورې یقني دی. چې سلیم اختر د هغوئ د ژوند او مرګ د تاریخ پهٔ ځای د رسالې نوم (vico Giovani Battista ) لیکلی دی. بهر حال زما پهٔ خیال سلیم اختر دغه حواله د بل کتاب یا چرته پهٔ پټو سترګو راخستي ده چې سهوا غلطي او تېروتنه ده . بله دا چې

سلیم اختر زیاتره اکتفا او حوالې د " اصول انتقاد ادبیات" نه ورکړي دي او د بل چا یا کوم مصنف ته درسیدو او حوالې د ورکولو د پاره ئې هم د دغه کتاب نه مدد اخستی دی - چې د دې پۀ واسطه ئې وروستو اصلي حوالې ته رسائي شوې ده او یا ئې پرې بیا هڅه ځان نۀ دی ستړی کړی.

پۀ تاریخي تنقید کښې یو نقاد د تخلیق شوي فن پارې کره کتنه د هغه دور د سماجي، تاریخي او سیاسي عواملو پۀ رڼا کښې کوي پۀ کوم کښې چې دغه فنپاره تخلیق شوي وي .دلته د یوې خبرې وضاحت ضروري ګڼم، حنیف خلیل لیکي :

"د تنقید پۀ ذریعه د تاریخ مطالعه کول د تنقید کار او وظیفه ده "*.

اوس تاریخ څۀ وي؟ د تاریخ مطالعه څۀ وي؟ تاریخ د ماضي هنداره ده. موږ د تاریخ پۀ ذریعه ماضي ته تللی شو او د تېر شوؤ حالاتو نه خبرېدی شو. یعني تاریخ موږ ته افاقي صداقتونه بیانوي چې د دې پۀ مطالعه کښې د تېر ژوند سره تړلي هر قسم لۀ حالاتو او واقعاتو نه پرده پورته کولی شي چې په کښې د یو دور سماجي،تاریخي،سیاسي،مذهبي، اقتصادي او معاشي یعني ارګجه موضوعات راتللی شي. پۀ دې اساس بیا تاریخي تنقید د عمراني، تشریعي او دغسې د نورو تنقیدونو کمی هم پوره کوي چې زما پۀ اند صحیح نۀ ده. اصل کښې پۀ تاریخي تنقید کښې د یوې فنپارې یا د تخلیق کار د دور تاریخي، سیاسي، ثقافتي او تهذیبي اقدارو سره د چاپېر چل او فطرتي مظاهرو څېړنه کولی شي. ولې نقاد د تشریعي تنقید پۀ څېر یوه کوټلې فېصله نۀ شي ورکولی. سحر یوسفزی لیکي :

" شیرر تاریخي تنقید راویست. پۀ کوم کښې چې د یو لیک کتنه د هغه دور د تاریخي او سیاسي حالاتو پۀ رڼا کښې کیږي. د دې سره د لیکونکي چاپېرچل او د فطرت مطالعه هم کولی شي او پۀ دې چل د هغه لیک د لیکلو غرض د لوستونکي مخي ته راوستلی شي. پۀ دې کښې د لیکونکي زمانه او زان دواړه کتلی شي. ولې د مولټن د استقرائي جاج پۀ شانتي پۀ دې کښې هېڅ فېصله نۀ شي کولی.د هغه دا خیال دی چې د دې ټولو څېړونو

مطالعه د دغه ليک پهٔ جاج کښې مرسته کوي. ولې يو نقاد ته دا حق نشته چې ګڼي هغه پهٔ دې حقله د تشريعي تنقيد پهٔ څېر يوه چورلټه فېصله وکړي.*

پهٔ تاريخي تنقيد کښې د يو نقاد دا ذمه واري هم جوړېږي چې هغه د يوې فنپارې کره کتنې د پاره د اديب يا تخليق کار سيمه، زمانه او نسل هم پهٔ نظر کښې وساتي.يعني کهٔ يو نقاد د خوشحال بابا تنقيدي مطالعه کوي نو هغه لهٔ پکار دي چې ورومبی د خوشحال بابا د دور نه ځان خبر کړي چې هغه پهٔ کوم دور کښې پېدا شوی وۀ د هغه دور او وخت تاريخي او سياسي څهٔ ستونځې وې او بابا د کومو مشکلاتو سره مخامخ وۀ. دغسې دوئ د کومې سيمې سره تعلق درلودۀ؟ د دغې سيمې او علاقې اب وهوا څنګه وه؟ او دا شان نور د چاپېرچل سره تعلق لرونکي څيزونه. هم داسې نسلي وراثت مطالعه کول هم تول د تاريخي نقاد د پاره اهميت لري.د دې نه علاوه تاريخي نقاد لهٔ دا هم پکار دي چې هغه د يو تخليق کار شخصي او داخلي محرکات هم رابرڅېره کړي کوم چې هغه د خپل سماج او چاپېرچل نه اخذ کړي وي.دغه شان د هغه د ژوند کړه وړه، ناسته پاسته او د روزمره ژوند معمولاتو ژوره مطالعه هم پکار ده. پهٔ دې حقله سليم اختر ليکي ..!

"زمين وطن ہی، اب و ہوا تہذ يبی اور تاريخی عوامل، جبکہ تخم نسلی وراثت کی اثرات ہی. يہ ہی تاريخی تنقيد کا لب لباب. اسی لئی تو ساں بو کی خيال ميں کسی بھی ادب پاری کی حسن و قبيح کا جائزہ ليتی وقت نقاد کی لئی اديب کی ذاتی حالات اور نجی کوائف کی معلومات کی ساتھ ساتھ اس کی ملک، وہاں کی مخصوص حالات، اس کی نئ نسل سی وابستہ اہم خصوصيات سی واقفيت لازم ہی. علاوہ ازيں نسلی وراثت کی اثرات کی مطالعہ کی خاطر اديب کی والدين اور خصوصيت سی والدہ کی حالات اور مزاج اور پھر ان کی ساتھ ساتھ اس کی بھائی بہن اور ديگر رشتہ داروں کی باری ميں بھی زيادہ سی زيادہ معلومات کا بہم پہنچانا ضروری ہو گا" *

اوس کهٔ پهٔ تاريخي تنقيد کښې د اديب يا تخليق کار د داخلي او موضوعي محرکاتو راسپړدل ضروري وي نو بيا دا د نفسياتي تنقيد سره نزديکت لري او کهٔ چرې پهٔ تاريخي تنقيد کښې د يو وخت، دور او زمانې د معاشرتي،ثقافتي او تهذيبي اقدارو

نه پرده پورته کول وي نو بیا دا د عمراني تنقید سره اړیکي لري.دغسې کۀ یو نقاد د ادیب یا تخلیق کار اقتصادي او معاشي اړخ رابرڅېره کوي نو بیا دا د مارکسي تنقید او اشترکیت سره نزدي والی لري. پۀ دې حقله سلیم اختر د ساں بو نقطه نظر وړاندي کوي.

"تخلیق کار کی مطالعه کی ضمن میں ہمیں ازخود متعدد استفسارات کرنیپڑتی ہیں ایسی سوالات جو تخلیق سی غیر متعلق بھی محسوس ہو سکتی ہیں لیکن ان استفسارات کی بعد ہی مطالعه تخلیق سی وابسته مسائل پر گفتگو ممکن ہی (یه سوالات یوں ہوں گی) ادیب کا مذہب کی باری میں کیا رویه ہی؟ فطرت کی باری میں اس کی سوچ کیسی ہی؟ امور زر وزن میں کیا رویه ہی؟ وه امیر ہیا غریب؟ اس کا شعار زیست کیسا رہا؟ اس کی سب سی بڑی خامی یا کمزوری کیا ہی؟ الغرض! کتاب اور صاحب کتاب کی باری میں ایسی معلومات و کوائف کا حصول جائز اور لازمی ہی". *

وړاندي لیکي چې د ساں بو پۀ نظریاتو کښې تین (تائن) وسعت او تنوع پېدا کړۀ هغه د انګریزي ادبیاتو د لوړو او نوموړو شاعرانو او ادیبانو جائزه پۀ تاریخي تنقیدي نقطه نظر واخیسته.

"تین نی ادب کی تفہیم اور تخلیقی محرکات کی تجزیه کی لئی اپنی وضع کرده اصولوں پر اس حد تک زور دیا که وه اچھی خاصی فارمولی کی صورت اختیار کر گئی. وه فارمولا یه ہی:

1۔ نسل(Race)

2 ۔ماحول(Milieo)

3۔ لمحه تخلیق (Moment)

اس نظریه کی روسی ادیب اپنی عہد کی پیداوار ہی. وه کسی خاص نسل سی وابسته ہی اور ایک مخصوص نوعیت کی سماج میں جنم لیتا ہی. علاوه ازیں کسی خاص مقام اور تاریخی لمحه کی مخصوص اثرات مل جل کر اس کی شخصیت کی تشکیل کرتی ہوئی ادبی شعور اور تخلیقی استعداد کو کسی مخصوص سانچه میں ڈال کر خاص طرح کا پیرایه اظہار عطا کرتی ہیں." *

د تنقید سره چې څومره تړلي مکتبونه دي نو هر یو ارومرو څۀ خوائص او خوبیاني ضرور لري ولې چې یو تنقیدي مکتب فکر پۀ بل تنقیدي مکتب فکر اعتراضات او ګوته پورته کړې ده ۔ او پۀ دې طریقه د وخت تېریدو سره نوي نوي مکتبونه پۀ وجود کښې راغلي دي ۔ او زاړۀ پۀ تاریخ کښې رقم شوي دي چې اهمیت ئې پۀ خپل ځای مسلم دی ۔ پۀ دې اساس تاریخي تنقید پۀ تنقیدي مکتب فکر کښې ډېر زیات ارزښت

او اهمیت لري چې پۀ وړومبي ځل ئې پۀ تنقیدي دنیا کښې د معاشرتي کرداریت سره سره د تاریخي محرکاتو او د نسلي وراثت اهمیت او مقام پۀ ګوته کړو.

"تاریخی تنقید کی اس لحاظ سےبھی اہمیت ہی کہ اس نی پہلی مرتبہ ان سماجی عوامل، تاریخی محرکات اور نسلی اثرات کی اہمیت واضح کر دی جو کسی نہ کسی طرح سی ادیب کی شخصیت کو خاص سانچہ میں ڈالتی اور اس کی تخلیقی شعور کی لئی مخصوص انداز میں سامان تہیج بہم پہنچاتی رہتی ہیں". *

نو بل اړخ ته تاریخي تنقید څۀ خامۍ او کمزورۍ هم لري چې سحر یوسفزي ورته داسې اشاره کړې ده.

"د جرمني شیرر د تاریخي تنقید لاره هواره کړه او روح عصر هر څۀ ئي اوګڼه. پۀ دې کښې لیکونکي د ځان چاپېرچل او زمانې مطالعه کیږي. پۀ دې کښې د شاعر د ځان مطالعه کۀ یو لوري ته ډېره کمه ده نو بل لوري ته نقاد ته د فېصلې حق نۀ دی ورکړی شوی.*

زما پۀ خیال کۀ یو نقاد پۀ تاریخي تنقید کښې دغه ټول لوازمات پۀ نظر کښې وساتي نو یو ښۀ تنقید مینه پرې ماتیدی شي لکه پۀ تاریخي تنقید کښې نقاد د یو فنپارې یا ادیب او تخلیق کار وخت، دور، سیمه او علاقه او دغسې نسلي وراثت سره سره سماجي،معاشي،ثقافتي،تهذیبي او اقتصادي ستونځې د ماحول او چا پېرچل او خصوصاً د ادیب او تخلیق کار داخلي او موضوعي محرکاتو مطالعه پۀ ژور نظر وکړی شي نو یو کامیاب او بشپړ امتزاجي تنقید ترې جوړېدی شي چې د دې ټولو تنقیدونو کمی به هم پوره کړي.

## حوالې

1. سحر یوسفزدی ، ادب څۀ دی؟، سوات ، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز جي ټي روډ مینګوره ، دریم چاپ 1996ء ، مخ 121

2. هم دغه کتاب ، هم دغه مخ

3. نسیم، عارف، پروفېسر، ادبي تنقید، پېښور ښار امین پرټنګ پرېس، جون 2007ء، مخ 21

4. سحر یوسفزدی ، ادب څۀ دی؟، سوات ، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز جي ټي روډ مینګوره ، دریم چاپ 1996ء ، مخ 132

5. عابد علي عابد، اصول انتقاد ادبیات، لاهور، مجلسِ ترقي ادب 2 کلب روډ ، دویم چاپ 1966ء ، مخ 138 -- 139

6. سیلم اختر ډاکټر ، تنقیدي دبستان ، لاهور، سنګ میل پبلي کیشنز، 2014ء ،مخ 132

7. حنیف خلیل پروفېسر ، تنقید پۀ پښتو ادب کښې ،کوئټه ، غزنوي پبلشرز سویس پلازه نزد زهري مسجد جناح روډ ،اګست 2014ء ، مخ 71

8. سحر یوسفزدی ، ادب څۀ دی؟، سوات، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز جي ټي روډ مینګوره ، دریم چاپ 1996ء ، مخ 137

9. سیلم اختر ډاکټر ، تنقیدي دبستان ، لاهور، سنګ میل پبلي کیشنز ، 2014ء ،مخ 135

10. هم دغه کتاب ، مخ 136

11. هم دغه کتاب، هم دغه مخ

12. هم دغه کتاب، مخ 137

13. سحر یوسفزدی ، ادب څهٔ دی؟، سوات ، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز جي ټي روډ مینگوره ، دریم چاپ 1996ء ، مخ 142

# په سهېلي پښتونخوا کښې د پښتو ادبي ټولنو تاریخي پس منظر

# HISTORICAL BACKGROUND OF PASHTO LITERARY SOCIETIES OF SOUTHERN PASHTOONKHWA

Niaz Muhammad Kakar[*]

Prof. Dr. Naseebullah Seemab[†]

(Corresponding Author)

**Abstract:**

*The authors of this paper have intensively investigated the role of Pashto literary societies in Balochistan. As Balochistan is considered one of the significant centers for the promotion of Pashto language and literature besides its historical connection with the Afghanistan, a number of Pashto literary societies emerged and developed. Due to their contribution to Pashto literature; poetic & prose collections, critical and research based writings have been written.*

[*] M.Phil. Scholar, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta
[†] Prof. Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta. Email. Naseeb902@gmail.com